مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۰۶

# د کوړګي په زړه کې خدای

د روسي ليکوال ماکسسم ګورکي په کتاب (مور) کې چې د پاول ولاسوف مور له هغه او ملګرو يې وپوښتل:

اوريدلي مې دي چې ته خدای نه مني؟

نو پاول ولاسوف يې په ځواب کې وويل:

«مورې مورې د هغه خدای په اړه نه غږيږو، کوم چې ستا په زړه کې دی! څوک چې مهربان او زړه سواند دی. شفيق دی او له خپلو بنده ګانو سره مينه کوي.

موږ د هغه خدای خبره کوو چې پادريو او مذهبي مشرانو پر موږ مسلط کړی، کوم چې هر وخت کوتک په لاس وي، خپل بنده ګان ويروي او هره شېبه سزا ورکوي.

مورې!

يوه ورځ به موږ خپل خدای د پادريو او مذهبي مشرانو له قبضې خلاص کړو. بيا به يې په زړه کې ځای پر ځای کړو او حمد به يې وايو.»

ژباړه:

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ